## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

### پرېږدئ چې په دغې مبارکه میاشت کې د پاکستان پوځ، لکه محمد بن قاسم چې زمونږ د نیکونو چغو ته ځواب ویلی و، د غزې د ماشومانو چغو ته ځواب ووایي

(ژباړه)

د ۲۰۲۴م کال، د مارچ په ۱۲مه، د پاکستان او منځني ختیځ لپاره د امریکا د پوځ څانګې، د امریکا مرکزي قومندانۍ (سېنټکام) په ۲۰۲۴۰۳۱۲-۰۱ نمبر مطبوعاتي اعلامیه کې د اردن د شاهي هوایي ځواک په همکارۍ غزې ته د هوا له لارې د بشردوستانه مرستو غورځولو اعلان وکړ. د غزې کړکېچ د زلزلې یا سیلابونو پشان ناورین نه دی؛ بلکې د یهودي دولت له لوري د بې دفاع ملکي خلکو پر وړاندې د سوې ځمکې پالیسۍ یا (scorched earth policy) چې په جګړه کې یو لوری هر هغه څه له منځه وړي چې مقابل لوری یې ګټه ترې اخلي؛ لکه ببېخ‌بنستېونه، سرچینې او ...) له مخې ښکاره جګړه ده. دا یوه ویجاړوونکي ټولوژنه ده چې د غربي صلیبیانو له لوري یې په بشپړ ډول ملاتړ کیږي. دا یوه ظالمانه محاصره ده؛ مسلمانان په کثافاتو کې فاسد شوي خواړه لټوي او د اوبو د کمښت او لوږې په حالت کې مړه کیږي. دا جګړه په اشغال پیل شوه او له لا ډېر اشغال سره به پای ته ورسېږي. نور بس دي! مسلمان پوځونه باید د فتوحاتو په میاشت، روژې میاشت کې د یهودي دولت د له منځه وړلو لپاره بسیج شي. پرېږدئ چې مسلمانان د پاکستان په پوځ کې د خپلو خپلوانو او ملګرو له منځه د نن ورځې محمد بن قاسم راوپورته کړي. پرېږدئ چې په دغې مبارکه میاشت کې د پاکستان پوځ، لکه محمد بن قاسم چې زمونږ د نیکونو چغو ته ځواب ویلی و، د غزې د ماشومانو چغو ته ځواب ووایي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

«**وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ**» [انفال: ۷۲]

**ژباړه:** *«کله چې څوک د دین لپاره له تاسو نصرت وغواړي، نو پر تاسو فرض ده چې نصرت ورکړئ.»*

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د پاکستان حکام او د هغوی چاپلوس شیطانان اوس هم ستاسو په پرلپسې او صادقانه غوښتنو ملنډې وهي چې د غزې د ملاتړ لپاره د پاکستان وسله والو ځواکونو د بسیج لپاره یې ترې کوئ. دا ډارن حکام هماغه کسان دي چې له واشنګټن څخه په یوه تلیفوني اړیکه کې د امریکا د ګټو د ترلاسه کولو لپاره زمونږ پوځونه د نړۍ هر کونج ته، که لېرې وي که نیږدې، لېږي. خو خبره چې د غزې شي، وایي غزه ډېره لېرې ده! کله چې مسلمانان ملاتړ ته اړتیا ولري واټن خنډ نه شي کېدای. کله چې خبره د هغه دښمن پر

وړاندې، چې پر موږ يې بريد کړی او له خپلې خاورې مو وباسي، د جګړې لپاره د الله سبحانه و تعالی د امر وي، نو واټن هيڅ خنډ نه شي کېدی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

«**وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ**» [بقرة: ۱۹۱]

**ژباړه:** *«له هغوی سره وجنګېږئ، تر دې چې پر هغوی برلاسي شئ او هغوی له هغه ځايه وباسئ چې تاسو يې ترې ايستلي يئ.»*

کله چې خبره د مسجد الاقصی، د اسرا او معراج سپېڅلې خاورې وي؛ نو واټن او لېرې والی هيڅ خنډ نه شي کېدی. د ايمان او د الله سبحانه و تعالی د اطاعت په مسله کې واټن هېڅ خنډ نه شي کېدی. د هغو کسانو لپاره چې له الله سبحانه وتعالی سره تجارت کوي او د جنت لپاره له خپل سر و مال څخه تېر وي؛ واټن هيڅ خنډ نه دی!

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د پاکستان په وسله وال پوځ کې د خپلو خپلوانو او دوستانو هيڅ پلمه مه منئ. که وايي چې دوی په قومانده عمل کوي، ورياده کړئ چې د مسلمانانو لپاره د الله سبحانه وتعالی له حکم څخه پورته هيڅ حکم نشته. ابن ماجه او احمد روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «**مَنْ أَمَرَكُمْ مِنْهُمْ بِمَعْصِيَةِ اللَّهِ فَلَا تُطِيعُوهُ**» *«که ستاسو له اميرانو څخه چا د الله سبحانه وتعالی پر معصيت امر وکړ، د هغه اطاعت مه کوئ»*. که وايي چې د پاکستان فاسد حکام يې مخه نيسي، ترې وغواړئ چې دغه حکام يې له فساد سره له مخې لرې کړي. که وايي چې د عربو حکام به غزې ته دوی د تګ مخه ونيسي، نو د نبوت پر منهج د خلافت د بيا تاسيس غوښتنه ترې وکړئ، چې د عجم او عربو ټول جنايتکار حکام به لرې کوي. که وايي چې د رهبرۍ لپاره يې څوک نشته، ورته ووايئ چې حزب التحرير ته خپل نصرت ورکړي. که بل څه وايي، خبر يې کړئ چې الله سبحانه وتعالی ته به ځواب ورکوي او تاسو به د دوی پر وړاندې شاهد اوسئ. بيا هېڅکله هېڅ غوښتنه مه ترې کوئ.

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو مسلمانو!** تاسو کمزوري نه يئ، ځکه چې الله سبحانه وتعالی د ځمکې پر مخ تاسو يو تر ټولو ځواکمن پوځ جوړ کړي يئ. تاسو د ځمکې له ملاتړه نه يئ بې برخې، ځکه چې اوس دوه مليارده مسلمانان راپاڅېدلي او بايد تاسو هم ورسره پاڅېږئ. تر ټولو مهمه دا چې تاسو د اسمان له ملاتړه نه يئ بې برخې، ځکه ستاسو ملاتړی الله سبحانه وتعالی دی. د تاريخ پاڼې هغه څوک نه بدلوي چې زړورتيا، عزت او ايمان نه لري. دا کار هغه کسان کولی شي چې په خپلو هڅو کې نه ستړي کېدونکي دي او د الله سبحانه وتعالی پر نصرت پوره ايمان لري. حزب التحرير د خپل امير، شيخ عطاء بن خليل ابو الرشته تر مشرۍ

لاندې له لسيزو راهيسې تاسو ښه پېژني. په تاسو کې يو محمد بن قاسم نشته، بلکې ډېر زيات دي. د اړتيا وړ کار ترسره کولو او د شرعي مکلفيت پوره کولو لپاره تر بس هم زيات دي. نو ګرانو ورونو! خپل لاس د شيخ عطاء پر لاسونو کېږدئ او پر مخ لاړ شئ. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

«**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ**» [محمد: ۷]

**ژباړه:** *« اې مومنانو! که الله تعالی ته نصرت ورکړئ، هغه به تاسو ته نصرت درکړي او ستاسو ګامونه به کلک کړي.»*

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د رمضان ۵مه**

**۲۰۲۴م کال، د مارچ ۱۵مه**

**د صدور ګڼه: ۳۹/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**